# د پښتو ادب مرغلرې

ترتیب و تنظیم:
**هژبر شینواری**



## کمال الدین مستان د ویرونو انځورگر

د کلونو کلونو ویر زموږ د کلي چاپیریال په وینو سور کړی دی. ددې ټولگې شاعر کمال الدین مستان هم ددې کلي اوسیدونکی دی. د وینو رنگ یې نه خوښیږي ځکه نو غواړي په خپلو غټو غټو اوښکو دغه رنگ ومینځي. په فزیکي لحاظ ژړا اوخندا یو ډول تر سره کیږي، خو توپیر یې په دې کې دی چې د ژړا سره اوښکې هم ملي وی. مستان صیب له همدې امله خپلې ژړا ته د «پریمنځلی خندا» نوم ورکړی دی.

د «پریمنځلی خندا» زیات شعرونه د طبیعت او چاپیریال د ځانگړو شاعرانه توکو لکه سپوږمۍ، ستورې، سپرلی، لمر، ځنگل او داسې نورو په وسیله انځور شوي دي. همدغو تصویرونو یا په بله ژبه ذهني انځورگرۍ د مستان صیب شعرونو ته ځانگړې ښکلا ورکړې ده. د یادونې وړ خبره دا ده چې د «پریمنځلی خندا» په شعرونو کې د مقیده تصویرونو لکه: زلفې د ویښتو، نرگس د سترگو، سروه د قد او داسې نورو په ځای له آزادو تصویرونو څخه استفاده شوې ده او د آزادو تصویرونو گټه دا ده چې د یوې نه زیاتې معنی گانې افاده کوي.

«گورې چې تبر
په تیرو غاښونو
د شنه چمن د متو غوښې شکوي
څه د ځنگله کلي ته لاره وکړه
گوره چې کومه ونه
تبر ته لاس ورکوي.»

مستان صیب زموږ د اوسني روان ادبي بهیر د منځمهالې دورې شاعر دی. نه دومره ځوان دی او نه دومره په عمر پوخ او زهیر. شعر یې هم په همداسې یو پیر کې ځغلي.

یوه ورځ یې راته خپل شعر ولوستلو، خو د توقع خلاف د وا وا! او ډېر ښه! په ځای ما ورته وویل: که رښتیا درته ووایم خوښ مې نه شو.

هغه هم په برگو سترگو سمدلاسه ځواب راکړ: ملامته نه یې، ځکه چې ته د کانو انجنیر یې په شعر څه پوهیږې؟

په ډله کې ناستو کسانو ته د مستان صیب خبره ځکه درنه ښکاره شوه چې هغه شاعر دی او شاعر هیڅ وخت فارمول نه مني، هر وخت او هره شیبه په خلاص مټ مثبت ته منفي او منفي ته مثبت ویلی شي. د شعر ځولۍ خو یې تل د مبالغې، فانتازي، اسطورې او سمبولونو څخه ډکه وي. ما په ځواب کې ورته وویل: زه منم چې ساینسپوه ډېر سختگیر وي. هغه د طبیعت قوانین د علت او معلول له مخې پلټي، مبالغه او متضادې خبرې نه مني. له همدې ځایه د هنر

هژبر شینواری

### د باد په تنستیدلی ذهن کې...

ما هماغه غر په خپلو سترگو ولید
چې د شپو
د سیورو شاته یې د ستورو زیړیدلي سپینې وړانگې ښخولې
ما هماغه غر په خپلو سترگو ولید
چې زموږ
د کلي شاته یې د پاکو او نازکو شنو شنشوبو غوټي مړې کړې.

مایې تور رنگ
مایې تور بوی
داړ شوي باد په تور او تنستیدلی ذهن کې ولید
چې دا غر به د چا غر و،
چې دې غر سره به ځنگه
او د چا غوږونو کټ کټ وي خندلي
مگر نن هم
ما هماغه غر
په خپلو سترگو ولید
چې د ستورو د بچیو
او زموږ د کلي شا ته
د شنشوبو د مړو شوو هیلو مخ ته
تویوي د مکرجنو اوښکو ځاځکې
خو لا ستورې
راته گوري
خو لا پاڼې د شنشوبو راته خاندي
هماغسې چې کتل یې
هماغسې چې خندل یې!

۱۳۶۹، کابل

دغه شعر په ۱۳۷۳ کال کې د شعر لومړی درجه دولتي جایزه وگټله.

او سیانس لاری سره بیلیږی. هنر په ښکلا اوعواطفو پسی گرځي او سیانس د طبیعت په قوانیونو پسی. زما هیله دا نه وه چی شاعر دی د سیانس د قوانینو له مخی شعر ووایي بلکه زما نیوکه او اعتراض دا و چی په هر هنري ژانر کی باید هنري منطق وکاکرول شي او که نه وي، هرو مرو به بی هنري ارزښت هم کم وي. د بیلگی په توگه: هره ژبه په خپل چاپیریال او عامیانه فرهنگ کی یو لړ منلی سمبولونه لري لکه زموږ په ژبه کی (گیدړ) د بی غیرتۍ او (شپون) د یو ساده، بی آلایشه او سپڅلی انسان په ښه کارول کیږي. خو همدغه سمبولونه بیا په نورو ژبو کی د بیلابیلو مفاهیمو له پاره کارول کیږي. د مثال په توگه په فارسي ادبیاتو کی (گیدړه) د یو چالاک او مکار حیوان په توگه او (شپون) د یوه زړور غښتلی ساتونکی او محافظ د سمبولونو به ښه چی تل خپله رمه د داړونکو او وحشی ځناورو څخه ساتي کارول کیږي. نو کله چی زموږ شاعر په خپل شعر کی د خپلو مطالعاتو او آفاقي معلوماتو په لړلو بهرنی سمبول په بهرنیو مفاهیمو کاروي، د شعر مینوال مجبوریږي چی دا حکم وکړي: چندان شعر نه دی، خوښ می نه شو. ځکه هغوي په خپل چاپیریال کی د نوموړی سمبول د تصویر څخه هیڅ ډول اغیزه نه شي احساسوی. ددی موضوع د وضاحت له پاره زه یو بل مثال هم راوړم. په اروپایی هیوادو کی آسمان تل په وریځو پوښلی وي، لمر کله کله خپل ځان راښکاره کوي، نو ځکه یی د لیدو هیله او تلوسه د اروپاییانو په زړونو کی شاعرانه وسوسی را پاروي. همدا لامل دی چی (لمر) په اروپایی ادبیاتو کی په زړه پوری شاعرانه احساس تخنولی شي. خو که زموږ شاعر د هغوی څخه په تقلید او پیښو په شرقي هیوادونو کی چی هره ورځ (لمر) سمبول کاروي، دا به یوه تیروتنه وي او طبعا د شعر پیکه والی به یی هم له ورایه معلومیږي.
زما او د مستان صیب تر منځ د اختلاف ټکی له همداسی یوی کلمی نه پیل شو.
کله چی ماته مستان صیب خپل شعر اورراوه نو په یوه بیت کی یی داسی راغلی و «شپه ماته شوه». ما په ټوکو کی ورته وویل: شپه خو څه د خاورو کنډلی نه دی چی په یو ترنگ مات شي. ښه به دا وایي چی شپه د یوی پراخه توری پردی سره تشبیه شي او د «ماتی» په ځای د «څیري» کلمه وکارول شي. ځکه چی زموږ په عامیانه فرهنگ کی همداسی کارول شوی ده. ښایي ستا همدا کلمه په دري–فارسي ادبیاتو کی «شب شکست» په ښه یو ښه تصویر ورکړي خو په پښتو ادبیاتو کی په غوږونو سم نه لگیږي.
خو مستان صیب په کلکه دا خبره ردوي او وایي: چی دا ستا خپل ځانگری ذوق دی. ادبی آثار هیڅ وخت د سم او ناسم په تله نه تلل کیږي.
ددغسی یوی مشاجری نه وروسته زه دی نتیجی ته ورسیدم چی شاعر د هیچا دستو او فرمایش نه مني. ځکه هغه عادي شخص نه دی. هر څه چی یی په زړه وریږي، هغه وایي. کله کله خو بیخي لیونۍ کیږي، د عصیان او بغاوت جنډه هم پورته کوي. د ټولنی د رواجي دودونو زولنی ماتوی او په دی لاره کی داسی گړندی پر مخ روان دي چی د هیچا پروا نه ساتي.

انجنیر ستانه میر زهیر

پیښور ښار، کوهاټ روډ، ۲۰۰۲

## د غزل لیلا

هسی دی سترگو کی حیا پرته ده
لکه پیالو کی چی موسکا پرته ده
دا دی له مخه پلو لری شولو
که د سپوږمۍ سپینه رڼا پرته ده
ستا د سپرلینی غیږی ځانگو کی می
د شینکو هیلو تمنا پرته ده
زلفی را واړوه چی شپه ماته شي
ستا تر پیکی لاندی سبا پرته ده
لړ یی په ورو لوله چی ویښه نشي
زما په غزلو کی لیلا پرته ده.

۱۳٦۹، کابل

## کوډی

سترگی می تښتي رانه...
ما ته د مینی
د دیدن
او د ښایست او لیونیو محل نه راښیی
ما ته کتاب وگوري
لکه چی
زما په سترگو کوډی شوي.

۱۳۷٦ ، پیښور

د کمال الدین مستان چاپ شوي آثار:

۱– توفان ، د لنډو کیسو ژباړه
۲– زما پوهنځي ، ژباړه
۳– د بهایي جان صاحب زاده احوال او آثار
٤– د موسهي مولوي فیض محمد آخندزاده بیوگرافي
٥– د لمر شغلو ته ، شعري لومړۍ مجموعه
٦– د پانو شهادت ، د شعر دوهمه مجموعه
۷– ولسي شاعران ، د مقالو په شکل
۸– ولسي پانگه، فولکلوریکي مقالی
۹– پریمنځلي خندا، د شعرونو مجموعه.